پوهنیاررحمت الله حکیمي

# د استادانه نثرښکلا

# The beauty of Masterful prose

**Teaching Assistant Rahmatullah Hakimi**


## Abstract

Morphological structures do not harm literary ferment. Literary ferment by having special flavor or authentic in any format. It creates literature in prose and poetical in poetry. If prose has equal words with enthusiastically heartily and aesthetic tendencies, of course it becomes artistically and beep aesthetic inclinations a company it.

Readers will especially in joy while reading it. This time in Olfat's prose, I has come up with the interpretation and analysis of this joy. The aesthetic items which I found in his prose and made his prose beautiful are: artistically logic, the beauty of unpredictability, the joy of amphibology, effective joy, paradoxical joy, similes joy and musicality. The interpretation and analysis of these items in his prose showed me that Olfat's prose are masterful, perfection and beautiful prose. This claim demonstrate this article to you.

## لنډیز

شکلي جوړښتونه ادبي پېراېې ته زیان نه شي رسولای. ادبي پېرایه د ځانګړي کیف په لرلو سره په هر قالب کې معتبره وي،په نثر کې ادبیت په شعر کې شعریت پیداکوي. که نثر له ذوقي، قلبي او ښکلاییزو تمایلاتو سره برابرې خبرې ولري طبعاً په هنري نثر اوړي او ژور ښکلاییز رجحانات ورسره مله وي. لوستونکي به یې له لوستلو څخه ځانګړی کیف اخلي. دا ځلې د الفت په نثر کې د همدې کیف په تفسیر پسې راوتی یم . هغه ښکلاییز توکي چې د نوموړي نثر ته یې ښکلا ورکړې او ما یې په نثر کې موندلي عبارت دي له : هنري منطق، د ناڅاپیتوب ښکلا، ایهامي کیف، عاطفي کیف، پراډوکسي کیف، تشبیهي کیف او موسیقیت . د استاد په نثر کې د همدې توکو تفسیر او تحلیل راته وښوده چې د الفت نثر یو استادانه ، باکماله او ښکلی نثر دی، همدا ادعا به دا مقاله درته په زباد رسوي.

## سریزه

هغه نثر چې له لوړ فکر، عالي پیغام ، په تول تللی سکښت ، ښکلاییز او هنري کیف ولري استادانه نثر ګڼل کېږي. کله چې په پښتو معاصر ادب کې د خواږه او ښکلي نثر خبره کوو د ګل پاچاالفت نوم مو مخې ته راځي. د الفاظو سکښت او هغه ته د ښکلاییز روح ورپوه کولو کمال مې بار بار د الفت په نثرونو کې لیده. روح، ضمیر او زړه به مې ورسره د خوښی احساس کاوه . له معنوي ښېګڼو سربېره یې شکلي سکښت عجیب کیف لرلو. ومې غوښتل چې د همدې کیف مزه په لوستونکو وڅکم؛ نو ښکلاییزو نورمونو او خپلو ذوقي تمایلاتو ته په پام مې د استاد هره نثري ټوټه دقیقه ولوسته، هغه نقطې مې معلومې کړې چې د نوموړي نثر ته یې ځانګړی جمال ورکړی و. غواړم د همدغو هنري او ښکلاییزو نقطو په راټولولو سره د ( استادانه نثر ښکلا ) تر سرلیک لاندې د لوستونکو او د الفت د مینه والو تنده څه ناڅه ماته کړم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

هنري نثر د معاصر ادب ګرمه موضوع ده چې په استادانه الفت هم په استادانه ډول لیکلی. نوموړی د ادبي مسایلو په اړه د تیوری د وړاندې کولو او د هغه د تطبیق وړتیا لري ؛ نو دداسې لیکوال په پنځونو خبرې کول د معاصرې څېړنې غوښتنه ده چې له یوه اړخه مو د خپلو تخلیقي ادبیاتو له مقام او له بله اړخه د هنري نثر لیکنې له روشونو او تکنیکونو خبروي. د څېړنې په ترڅ کې راته دا څېړنه غوره او مبرمه ښکاره شوه.

## د څېړنې موخه

د ادب حق به مو په دقیق ډول هغه وخت ورپوره کړی وي چې د خپلو قلبي، ذوقي او ښکلاییزو تمایلاتوپه تفسیر برلاسي شو. په تخلیقي ادبیاتو بحث همداسې چاره غواړي، د الفت د نثر د خوږوالي خبره مو له ګڼو لوستونکو اورېدلې؛زما په اند له ګوتو په شمېر کسانو پرته نورو دا خبره ښکلاییز ذوق په پام نه ده ثبوت کړې کومه چې ددې څېړنې اصلي موخه ده.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د الفت نثر ولې خوږ دی؟

۲. کومو ښکلاییزو تمایلاتو د نوموړي نثر ته جاویدانه ښکلا ورکړې؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي، توضیحي او تحلیلي روش څخه استفاده شوې ده.

## اصلي متن

د پښتو معاصرو ادبیاتو نوښتګر لیکوال ګل پاچاالفت ښکلې، پیاوړې منظومه او منثوره ژبه لري. ده د ادب مزاج پېژندلی و. همدا علت دی چې هره وینا یې د لوستونکي ښکلاییز رجحانات په ولولو راولي. د فرانسیس بیکن د کتګورۍ له مخې په هغو لیکوالو کې راځي چې د مچیو په شان له ګلانو شیره راټولوي او په شاتو یې بدلوي. د ( پردې خبرې ) تر سرلیک لاندې په یوه کرښه کې لیکي: (( ما اوښان

نه دي بار کړي زما قافله د مچیو ده چې د ګلونو له پاڼو نه په هوا یو ځه راوړي او عسل جوړوي. له دې قافلې سره مې د سبا د وږمو خوشبویي بار کړې ده چې څوک یې په سترګو نهویني، مګر حساس دماغونه یې احساس کولای شي.)) ( ۱: ۱۵۳ مخ)

د الفت له خبرو ښکاري چې دی په یوه باریکه ، حساسه او خوږه لاره مزل کوي. ددې د سفر په کیف هغه څوک ښه پوهیږي چې دروني دنیا یې ودانه وي. د اوښــانو بار شـوی کاروان له لرې ښـکاري؛ خو د الفت د مچیو هغه شـیره په اسـانه نه لیدل کېږي چې له ګلانو راټوله او عسـل ترې جوړېږي. پوره څېړتیا غواړي، دا مچۍ هغه مچۍ نه دي چې خلک چیچي او د خلکو سـترګې پټوي. ددې مچیو کاروبار له ګلانو او خوشـبويۍ سـره دی. کار یې ښـکلی، ثمره یې خوږه ده . الله رب العزت یې سـتاینه کړې. له دې څخه ښـکاري چې د ادب په عرصـه کې د الفت کردار د شـاتو مچیو ته ورته دی. هره وینا یې خوند او پند لري. الفت په ټوله معنا ادب د قلبي تمایلاتو مولد ګڼي او د قلبي تمایلاتو کار له ښکلا او هنر سره دی؛ نو د الفت کلام ځانګړی ښکلاییز کیف لري.

ښــکلا په ټوله کې د روحي خوښــۍ او ســکون موثره وســیله ده. په طبیعي ډول په طبیعت کې موجوده ده. په ادبیاتوکې بیا د همدې طبیعي ښکلا دویم تمثیل وینو چې په تجربه او عمل کې پټ دی. دا چې ادبیات د هنر ستره ځانګه ده او هنر د ښکلا د ظهور بهترین میدان دی؛ نو په قطعي ډول ویلای شـو چې ادبیات له ښکلا سره تړلې مسله ده . حبیب الله جاج پښـتونزی لیکي : ((یوه هنري پارچه هغه ده، چې ښکلې وي او ښکلا هغه ده چې ستومانه او خواشینې بشري روح تازه کوي . )) ( ۴ : ۱۱۵ مخ)

د هنري نثر سـره د لیکونکي قلبي تمایلات په بشـپړ ډول مله وي. په همدې علت د لیکوال او لوسـتونکي ښـه اېسـي. اریک نیوټن ډېره خوندوره خبره کړې: (( دا به سمه وي که ووایو چې هر هنري اثر د ماشوم په څېر دی چې هنرمند یې مور او د هنرمند چاپیریال یې پلار وي. په دغه ورته والي او د هنر څخه د خوند اخیستلو په بوختیا کې موږ د هر هنري اثر د ترور او ترونو مقام پیداکولای شو . هغه هنرمندان چې دا آثار تخلیق کوي زموږ ورونه او خویندې دي . )) (۹: ۸۵ مخ)

دغه لیکنه یواځې د الفت په نثر کې ښـکلاییز او هنري کیف ته ځانګړې شـوې. د نوموړي په نثري مزایاوو به ګڼو لیکوالو خبرې کړي وي یا نه. زه یې هم په اړه خپل تاثرات درسره شریکوم، هنري او ښکلاییز کیف ته په پام د نوموړي د نثر په بارزو ښکلاوو(( هنري منطق، د ناڅاپیتوب ښکلا، ایهامي کیف، عاطفي کیف، موسیقي، پراډوکسي کیف او تشبیهي کیف )) تر سرلیکونو لاندې غږېدلی یم .

## هنري منطق

کله چې د منطق نوم اورو ورسـره سـم مو ذهن د اسـتدلال غوښـتنه کوي. له دې څخه معلومېږي چې منطق هغه غږ دی چې په علمي او عقلي اســتدلال ولاړ وي. منطق عربي کلمه ده، فرهنګ جامع معین یې په اړه لیکي:(( منطق علمي او عاقلانه اســتدلال دی، چې په وسیله یې کولای شـو له غلط او ناسـم استدلال څخه ځان وژغورو)) عقل د اسـتدلال سـتره پایه ده چې علم ورته نوازش ورکوي. که یو کس لوږ ته تیټ وایي، موږ دا نه ورسـره منو، ځکه لوړ لوړ وي او تیټ تیټ . دا خبره په علمي او عقلي اسـتدلال ناسـمه ده ، نو داسـې کس ته په عامیانه لهجه کې موږ بې منطقه وایو. مجرد منطق یو پوخ علمي او عقلي استدلال غواړي چې د نړۍ سترو فلاسفه وو د خپل بحث مبدا ګرځولې ده .

له هنر سره چې کوم منطق غاړه غړۍ وي، هغه هنري منطق دی ځکه له هنره استدلال غوښتل بې انصافي ده. هنر بایدپه هنري منطق ولاړ وي ځکه مجرد منطق په عقل او هنري منطق په زړه او عواطفو پورې تړلی دی. په دې ځای کې احساسات، عواطف او قلبي تمایلات د اسـتدلال ملا ورماتوي، هنري منطق د انسـان له دروني دنیا( احسـاس ، عاطفې او تخیل ) سـره سـرو کار لري . وړاندې مو وویل چې که څوک لوړ ته تیټ ووایي. دا خبره منطقي ضـعف لري اسـتدلال او منطق ته په پام داسـې خبره څوک نه شـي کولای؛ خو الفت د هنري

منطق په اســـاس لوړ ته ټيټ ځکه وېلای شــي چې همدا واړه لويان او همدا کنډې او ټيټ ځايونه برجوړې کلاوې جوړوي ليکي:(( د کلا برجونه او دېوالونه ډېر جګ وو، د کلا شــاوخوا خندق ډېر ژور و. له دغه جګوالي ســره دغه ټيټ والی ترلی و او د لوړتيا راز په همدغه کنده کې پروت و. تر څو چې يو ځای ډېر ژور نشــي د چا برجونه نه جګېږي. د يوه لوړېدل او د بل ټېټېدل يو له بله ترلي دي .)) ( ۱ : ۹۲ مخ)

د الفت صاحب د پورتنيو جملو هدف دادی چې وړو او ټيټو ته بايد په درنه سترګه وکتل شي، ځکه همدا واړه دي چې لوی شـوي دي، همدا ټيټ ځايونه دي چې لوړ ځايونه پرې جوړ شـــوي. الفت د لوســـتونکي فکر يوه اوږده مزل ته رابولي، دې ته يې متوجه کوي چې په ټيټوالي کې لوړوالی نغښتی نو د هنري منطق يوه ځانګړنه همدا ده چې د لوستونکي ذهن په تجسس او پلټنه بوختوي تر څو يې زړه ورسره ومني چې دا خبره سمه ده.

مجرد منطق په مستقيمه او علمي تجربه ولاړ دی خو هنري منطق په غير مستقيمه او اغېزمنه لار لوستونکي ته قنا عت ورکوي. دواړه د حقيقت په لټه کې وي. يو د پنځو بېرونيو حواسو په پايله او بل د ننئيو حواسو په ملتيا په يو اوږد تخيلي مزل تر لاسه کېږي.

بل ځای د ( لوی او وړوکي ) تر سرليک لاندې يوه ټوټه کې ليکي: (( په شـفتالو کې زړی دی ، په زړي کې د شـفتالو ونه ولاړه ده . د غنمو په وړې کې دانې شـته په دانو کې همداسې وړې شـته ، په چرګه کې هګۍ ده په هګۍ کې جرګه .......... نو راشـه! هېڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه . دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نه شـته. ټول برابر دي . يوازې خدای لوی دی او بس . د نن ورځې ديموکراسـي له همدغسـې ژورې کتنې څخه پيداشوه او د ډېر دقت نتيجه ده. )) ( ۱: ۵۱ مخ)

په پورته نثر کې لومړی خواوې په يوه عقلي او علمي منطق برابرې دي، ځکه همدا زموږ عقلي فيصـله ده چې وايو په شـفتالو کې زړی دی. که څوک يې نه مني په عيني او تجربي ډول يې ورته ثبوتولای شـو؛ خو دويمې خواوې چې په زړي کې يې د شـفتالو ونه درولې، په دانو کې يې وړي پټ کړي او له هګۍ نه يې جرګه پيداکړې . دا ټولې د خيال او فکر په هماهنګۍ جوړې شوې جملې دي. يو کس په خپل تخيلي سـفر کې دې ځای ته رسـيدلای شي چې وواېي په هګۍ کې چرګه ده، ځکه که هګۍ نه وی چرګه به له کومه کېده. دا پرېکړه د ذهن د يوه اوږده تخيلي مزل پايله ده. د الفت دا هنري منطق د دې هدف لپاره چې وړوو ته بايد په ټيټه او کمه ســترګه ونه کتل شــي څومره خوږ جوړ کړی، چې هم خوند لري هم پند. نو هنري ليکنې بايد هم يو منطق ولري چې ډېر کســان يې نه شـي محسـوسـولای ځکه په ظاهري ډول يې بېروني حواس په دې چاره کې عاجز پاتې کېږي او هغه د عواطفو، احساساتو او قلبي تمايلاتو چيغې نه اوري.

د ( نوي کال ) تر سرليک لاندې ليکي: (( .... موږ بايد په دې پوه شو، چې نوی کال له موږ نه څه غواړي او په خپله څه کوي؟ نوی کال سمدلاسه د ورځو په اوږدولو او د شپو په لنډولو پيل کوي. يعنې د خوبونو وخت کموي او د بيدارۍ وخت د کار او فعاليت لپاره زياتوي. د تيارې او تورتم عمر لنډوي او د رڼا عمر اوږدوي... )) ( ۱ : ۱۰۷.۱۰۸ مخونه)

په لوړ نثر کې د زيار، کار او فعاليت کولو درس پروت دی. که دا خبره په عملي منطق وتلو چې ووايو بيدار شـــه! ويښ شـــه! کار وکړه! ځکه ښـه فرصـت په لاس کې لرې. ممکن په لوسـتونکي دومره اغېز ونه کړي او ووايي چې زما لپاره تل فرصـت شـه. ما خو لټي نه ده کړې. دلته د فرصـــت لرلو لپاره مقنع دليل نه لرو. که همدا فرصـــت لرل، فعاليت کول د ليکوال غوندې په طبيعت کې ورته تمثيل کړو په لوســـتونکي اغېزه کوي او راســـره مني يې . د پســـرلي له اوږدو ورځو به دا درس اخلو چې بايد خوبونه کم او کارونه ډېر کړو. همدا هنري منطق دی چې موږ ته يې د زيار او هڅې فرصتونه راوښودل او د زړه له تله مو دا خبره له ليکوال سره ومنه.

د ((حسابي خبرو)) تر سرليک لاندې ليکي:(( استاد وويل تاسې بايد هر وخت له ځان سره حساب وکړئ او حسابي خلک و اوسئ! دده يو حسابي درس دا و: که يو عدد له بل سره داسې يو ځای کړو چې يو پاس او بل لاندې وي لکه ۲ او ۲ ترينه ۴ جوړېږي او د دواړو وجود هم په خپل حال نه پاتې کېږي.که دواړه څنګ په څنګ يو ځای کړو لکه ۲۲ نو دوه ويشت ورنه جوړېږي او دوه شل کېږي. د دواړو عددونو شکلونه او صورتونه هم پخپل حال پاتې کېږي، ځکه چې دلته د ملګرتيا او ورووليٰ راز پټ دی او په هغه بل صورت تفوق، تسلط او محوه کېدل معلومېږي. )) ( ۱ : ۱۶۰ مخ)

په پورتني نثر کې وينو چې برتري او يو په بل باندې د ځان لوړ ګڼل غندل شوي. خلک اتفاق، برابری، همغږی او اتفاق ته رابلل شوي. يعنې هدف دادی که موږ همغږي شو، اتفاق ولرو او يو په بل تفوق ونه لرو؛ نو دواړه به يې شل کړو که داسې ونه شي هم به مو شل کړي نه وي او هم به مو لومړی موقف نه وي ساتلی. اوس نو که چاته ووايې چې يو بل وزغمئ، يو په بل برتری مه کوئ، همغږي شئ ! چې ځان او ټولنې ته په ښه ورشئ. دا چې انسان ډېره نږدې او د حواسو په وړاندې ګټهويني. تل خپلو ښو ته ګوري؛ نو دا خبرې به دومره اغېز پرې ونه کړي تر څو چې قناعت ورنه کړي. د قناعت ورکولو لپاره په کار ده چې داسې بېلګه ورته راوړي چې مخاطب يې درسره ومني. الفت مخاطب ته د هنري منطق په اساس قناعت ورکوي. په اغېزمنه او باريکه لار يې حقيقت ته رسوي چې دا چاره په بشري علومو کې بې له هنري منطقه ناشونې ده.

داستاد ګل پاچا الفت ډېری ليکنې دا ځانګړنه لري.ما يې يو څو بېلګې دلته راوړې.کوم تاثير او اغېز چې د زړه په خبره او دروني تمايلاتو کې پټ دی. هغه په دماغي پرېکړو کې نه لېدل کېږي. په ټوله کې د الفت ليکنې په هنري منطق برابرې دي، په لوستونکو خوږې لګي او موږ يې د نثر څواکمنه ښکلا ګڼلای شو.

## د ناڅاپيتوب ښکلا

دا ښکلا په ناڅاپيتوب ، غير عادي والي او فوري تاثر کې پټه ده.څومره چې يو څه موږ ته نا اشنا ښکاره شي هغومره مو په حواسو ژور اغېز کوي، ځکه زموږ مزاج او فطرت له عادي پېښو او عادتوسره جوړ دی او نابېره خبره ورته حيرانوونکې ښکاري. همدا علت دی چې دداسې کلام په وړاندې موږ ډېر ژر احساساتي کېږو. څومره چې په زموږ په فزيکي څېرې او حواسو ژر اغېزه کوي هغومره ليکنې ته جذابيت ورکوي ، د تلوسې ګراف يې لوړ بيايي او هنري آثارو ته جاويدانه روح ورکوي. وړاندې تر دې چې ليکوال مقدماتي خبرې او توضيحات ورکړي. مستقيماً په غيرعاديوالي سره موضوع بيانوي.

استاد غضنفر ليکي: (( د ناڅاپي توب ښکلا زموږ په دوديز ادب پېژندنه کې نه ده معرفي شوې، حال دا چې ښه اغېزناکه وسيله ده ځکه هغه څه چې توقع يې لرو دومره ټکان نه راکوي لکه هغه څه چې توقع يې نه لرو. )) (۸: ۲۵۲ مخ)

که يو څوک وايي : رشوت خور قاضي دې ورک شي حق نه وايي. دا يوه عادي جمله ده چې يو عام وګړی د يوه قاضي له ناروا چلندڅخه سر ټکوي. د دې لپاره چې دا خبره نوره هم ښکلې شي او دخلکو په زړونو ژور اغېز پرېباسي نو استاد الفت بياد ((اصلي غل)) تر سرليک لاندې پورتنی مفهوم په داسې ژبه بيانوي چې په هره جمله کې يې غېر عاديوالی ليدل کېږي. ما چې د استاد دا نثري ټوټه وليده، ډېر ژر مې ولوسته، ځکه په کلام کې يې ناڅاپيتوب او غېر عادي والی ښکارېدو او هغه پورته عاميانه خبره يې راته داسې هنري کړې وه: (( په رښا ورځ يې د ډېرو خلکو په مخ کې ډېر څه له موږ نه پټ کړل، ستا خوښه چې غل ورته وايې که نه ! زه خو يې غل بولم. هو! غل دی ، خو د پوليسانو په نظر کې نه . ددې غله لاس قاضي او مفتي نه پرېکوي. هېڅوک دا غل نه نيسي او نه يې بندي کوي، ددې غله په ړېره خلی نشته ، ده ډېر څه له موږ نه پټ کړي دي او ډېر زيان يې را اړولی دی ، ده له موږ نه سره و سپين نه دي پټ کړي . دی ډېر

لوی غل دی . د ده غلا ډېره لويه او ســتره ده ، دی مال نه پټوي او ډېر مهم څه پټوي! دی موږ نه خپل ځان او خپل بد بد کارونه پټوي، دی خپل حقيقت او ماهيت پټوي، ځان او حقيقت پټول ډېره لويه او ســتره غلا ده، دا غلا د يوه ملت او مملکت کورونه ورانوي او ملکونه بربادوي ، دا غل ســترګې پټوي، په ســترګو ننوځي، له ســترګو او ســترګورو سـره دښـمني لري، هو ! دا غل له ســترګو نه رانجه نه پټوي، سترګې يې پټې دي، له موږ نه ډېر لوی حقيقت پټوي او دحقيقت غل دی. ده ته بايد حقيقي غل ووايو.)) ( ۱: ۶۸۳ مخ)

که پورته نثري ټوټې ته پام وکړو ټول هنريت او ښـکلا ناڅاپيتوب ورکړې . د غله لپاره دغلا کولو راحت وخت شـپه وي. د اســتاد په ليکنه کې وينو چې وايي ده په رڼا ورځ له موږ نه ډېر څه پټ کړل . بله دا پوښــتنه چې دې غله ته ولې هيڅوک ســزا نه ورکوي د پوليســانو زور پرې نه رسي. بل ځای وايي چې ده له موږ نه سره او سپين نه دي پټ کړي. په عام ډول خو غل همداسې څوک وي چې له خلکو مال پټوي؛ نو اســتاد الفت چې دا خبره کړې دا هم له عادت خلاف ده. په همداسـې ډول يې جملې رواني کړي وروســته خبره واضـح کېږي چې دی د حق پټونې غل ښــيي او په همدې دليل يې حقيقي غل ورته ويلی. دلته که فکر وکړود کلام ژبه له غېر عادي جملو څخه ډکه ده چې علمي او عادي قضاوت نه ورسره کېږي. ټول زور يې په څنګه ويلو راوړی چې همدې چارې يې د نثر ژبه هنري کړې.

دا ښکلاييزه چاره د ليکنې په سکښت او تخنيکي اړخونو پورې اړه لري چې معمولاً د ليکنې پيل پرې جوړيږي؛ خو د الفت په نثر کې دا ناڅاپيتوب د ليکنې په پيل ، منځ او پای کې ليدلای شــو. ځينې ځای يې په داســتاني ډول دا ناڅاپيتوب راپيل کړی، ځينې ځای په امري صـيغو سـره د لوسـتونکي توجه په فوري ډول جلب کړې. د بېلګې په ډول د ( بې ګناه بندي ) تر سـرليک لاندې ليکي: (( پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ، مه وېرېږئ دده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نشـته. فسـاد او شـرارت له ده څخه نه پيداکېږي. د ده بندي کول لويه ګناه ده. دی هغه يوسـف دی چې د بې ګناهي په سبب په زندان کې لوېدلی دی. که دی له زندانه راووځي، ستاسې آينده سنجولی شي او ستاسې د بلې ورځې غم خوړلی شي ........ پس له ډېره فکره بايد ووايم : فکر دی فکر ! ))( ۱: ۴ مخ)

لوړ نثر کې وينو چې ليکوال د لوسـتونکي پام را اړوني لپاره په امري صيغو او ناڅاپي ډول د ليکنې پيل کړی . بندي به له معمول سـره سـم هغه څوک وي چې د يوه جرم مرتکب شـوی وي؛ نو دلته چې د بې ګنا بندي خبره شـوې لوسـتونکی لا تجسـس ته رابولي. وروسـته معلومېږي چې الفت فکر له يوسف (ع) سره تشبيه کړی، لکه څنګه چې يوسف (ع) د کومې ګناه مرتکب نه و. هسې بې ځايه زنداني شوی ؛ نو الفت هم وايي چې فکر مه بندي کوئ. ده کومه ګناه نه ده کړې. پرېږدئ چې ازاد وي او خپله راټلونکې وســنجوي. يعنې ليکوال له فکري انحصاره سرټکوي اوپه فکري ازادۍ ټينګار کوي. دلته وينو چې څومره مهمه موضوع په ناڅاپيتوب سره وړاندې شـوې او د ليکنې سکښت ورسره ځانګړې ښکلا پيداکړې ده .

بل ځای د ( نوی فکر ) سـرليک په داسـتاني ډول په څومره ناڅاپيوالي سـره پيلوي:((هر چېرته لاړم، هرچاته ورغلم، کښـته پورته ډېر وګرځېدم، ښـارونه مې ولټول، په هېڅ ځای کې يې له هېچا سـره پته نه وه. هغه څه چې زه يې غواړم دلته نه پيداکېږي. چا چې غټه چوکۍ غوښـتله پيدايې کړه، څوک چې په نوي موټر پسې ګرځېده هغه دی په کې ناسـت دی، هغه چې په پيسـو پسې لالهانده وو بانکونه يې ډک کړل. يوازې زه خپلې ارزو ته ونه رسـېدم. په رښـتيا چې زه په ډېر نادر او ناياب څيز پسې ګرځم او زما حرص له ټولو نه زيات دی . هو! زه نوی فکر ، نوی خيال او نوی جهان غواړم . )) ( ۱: ۱۱۳ مخ)

په دې نثر کې وينو چې ليکوال په خپلې ورکې پسې چې هغه نوی فکر دی څومره لالهانده دی او په داسـتاني ډول يې خپلې خبرې څومره په غير عادي انداز کې بيان کړې. په پيل کې د توضــيحاتو مقدمه نه ږدي چې ووايي زه په نوي فکر پســې ګرځم. نوی فکر دا ګټې لري. د زوړ فکر اضـرار دادي. وار له وراه د لوسـتونکو توجه راجلبوي. خپله ورکه ورته ارزښـتمنه معرفي کوي. دده ورکه فزيکي شـتون نه لري، رښـتيا هم چې ده په داسې ناياب او نادر څېز پسې هڅه کړې چې له هيچا سـره نه موندل کيږي. دې ډول خبرو يې نثر ته ناڅاپي ښـکلا

ورکړې. په پایله کې معلومېږي چې لیکوال د خورا ارزښتمن ځېر پسې هڅه کوي چې هغه نوی فکر دی او د کلیشه شوو افکارو زنې پرې ورتړي.

همدرانګه د ( څوک وايي؟ ) تر سرلیک لاندې متن له منځه یو څو جملې را اخلو:((څوک وايي چې د دروغجن مخ تور دی؟ ما خو ډېر دروغجن ولیدل چې مخونه یې تک سپین دي. څوک وايي چې د غله په غره کې ځای نه شته ؟ رادې شي ودې ګوري چې ښارونه او بازارونه ترې ډک دي. څوک وايي چې د غله په رېره خلی وي، ډېر غله شته چې بیخي رېره نه لري.)) (۱: ۲۸۰ مخ)

په پورته جملو کې وینو چې الفت لوستونکي ژور فکر او ځیرتیا ته رابولي. د جملو لومړی برخې د ټولنیزو انګېرنو په اساس زموږ لپاره موثقې او عادي ګرځېدلې. که ژور فکر وشي دا بیا تل دقیقي نه خېږي. د الفت له ژور فکره کار واخلئ او د ټولنې مفسدین سم وپېژنئ . د جملو دویمو برخو تصادف او ناڅاپیتوب رامنځته کړی، ځکه زموږ له عادي برداشتونو او انګېرنو څخه خلاف کړنه په کې تر سره شوې او حقیقت ته یې پرې رسولې یو.

د الفت ډېر نثرونه دا کمال لري چې له تخنیکي اړخه د نثر د هنري کولو پیاوړې هڅه ده. لوستونکی وار له واره په خپلو احساساتو کې را ګډوي، هرې نقطې ته یې متوجه کوي، ژور فکر ته یې رابولي ځکه له تصادفي پېښو سره زموږ احساسات ډېر ژر غبرګون ښيي. دا ناڅاپیتوب او غیر عادیوالی د اغېز او تاثر له اړخه د نثر ځواکمنه ښکلا ده چې په طبیعي ډول نثر ته د لیکنې په یو لوی کمال سره ورکول کېږي او ګل پاچا الفت د نثر لیکنې په دې ادا کې مخکښ لیکوال دی چې موږ یې دلته یو څو بیلګې د نمونې په ډول راوړې.

## ایهامي کیف

ایهام لغتاً په تردیداوشک کې لوېدل دي. اصطلاحاً که له یوې کلمې څخه لوستونکی یااوریدونکي دوه معناوې اومفهومونه واخلي لومړی یې ذهن نږدې معنا ته لاړ شي وروسته بېرته دلیکوال اصلي (مقصدي ) معنا ته ور وګرځي ایهام رامنځ ته کېږي. ددې صنعت کارونه لیکنې ته ځانګړې ښکلا ورکوي چې ایهامي کیف یې ګڼو. یو خو دا چې لوستونکي ته دواړه معناوې ښکاره کېږي، بله دا چې په مقصدي معنی پسې ذهني ستړیا ایهامي کیف رامنځته کوي. داسې حالت په سړي راځي لکه ورک منزل یې چې موندلی وي. په دې اړه استاد غضنفر لیکي: ((کله چې لیکوال یوه خبره وکړي خو دوه مقصده ورنه ولري نو موږ وایو چې په خبره کې ایهام دی ، په هغه کلمه کې چې ایهام وي، د کلمې به نژدې معنا پسې د دویمې او لاهنري معنا موندل د ناڅاپي کشف خوند لري، خیال او فکر ورسره تازه کېږي. )) ( ۸: ۳۱۱ مخ)

ایهام یو له دې اړخه ښکلا زېږوي چې یوه کلمه د دوه متفاوتو اړخونو لپاره استخدامېږي، بل داچې د مقصدي معنا کشف بېل خوند لري. دوکتور شمیسا لیکي: ((کولای شو ووایو چې په ادبیاتو کې یوه کلمه په یوه ځانګړې مدلول دلالت نه کوي بلکې په یوه لاره په خپلو ټولو معناوو دلالت کولای شي او ایهام هم همداسې مطلب لري.)) ( ۷: ۳۰۷ مخ)

دغه ښکلاییز کیف دپښتو لیکوالو په ځانګړي ډول د الفت په نثر کې خورا زیات لیدل کېږي. خپله یې هم په اړه وايي: (( د علم په دنیا کې په یو څه پوهېدل خوند لري او په شعر او ادب کې ابهام او ایهام مزه دار وي. دلته سِر او راز، پرده او حجاب کمال دی. هلته تشریح، تفصیل، تحلیل او تجزیې ته ضرورت دی . هغه جذبه چې د انسان په روح باندې ډېر اثر لري د سِر جذبه ده. هېڅ ښکلیتوب بې پردې او بې حجابه نه دي. )) ( ۱ : ۱۰۴ مخ)

له دې شـــکارې چې الفت هم د تيوري د ورانـدې کولو او هم يې د تطبيق کولو ورتيا لري. ايهامي کيف يې پېژنـدلی، د هغـه په مزه او ارزښت خبر دی. وروسته يې په خپلو ليکنو کې دې ښکلا ته ځای ورکړی.

د ((سبا)) تر سـرليک لاندې ليکي: ((د هر چا کار او زيار د سبا ورځې د ښـه والي لپاره دی او د نن ورځې د عمل نتيجه د سبا ورځې په لمن کې لټوي ... د ســبا ورځې غم خوړل ، د ســبا لپاره فکر کول، د ســبا ورځې ضــرورت او احتياج په نظر کې نيول د ډېرو پوهانو او د ډېرو لويانو کار دی.)) ( ۱ : ۱۲۴ . ۱۲۵ مخونه)

په پورته جملو کې د ((سـبا)) له کلمې څخه دوه معناوې اخيســتل کېږي . يوه راتلونکې ورځ يا سـبا او بل قيامت چې دلته ياده کلمه د دواړو لپاره ښــه صــدق کوي؛ خو د قيامت تر معنا پورې تګ ايهامي کيف رامنځ ته کړی ، د قيامت د معنا کشــفول ښېل خوند لري چې معنا ورسره تازه او ښکلې شوې.

بل ځای د ((عقيدې)) تر ســرليک لاندې ليکي:((دی ړوندو، کتاب يې نه ليده اوپه کتاب نه پوهيده؛ مګر ډېر ټينګ يې په غېږ کې نيولی ؤ.)) ( : ۱۲۰مخ)

دلته هم وينو چې د ((ړوند)) په لفظ کې ايهام موجود دی، چې هم د نابينا او هم د ناپوه او جاهل مطلب ترې اخيســتل کېږي، چې لرې معنا يې همدا ناپوهي ده . په همدې معنا پسـې ذهني ســفر ايهامي کيف رامنځ ته کوي. يا لکه د اســتاد الفت په لاندې جمله کې چې د ((ســيند)) له لفظ څخه دوه معناوې چې يوه ((نفس)) او بله ((ســيند)) اخيســتل کېږي، ليکي:((ســيند د هر چا کار ته ګوري او هغــې ورسره کوي، يعنې خام بندونه ورانوي اوپاخه بند ته ځان تسليموي .)) ( ۱ : ۱۱۸ مخ)

د فاتح تر عنوان لاندې د سکندر د فتحې په کيسـه کې د عشق مقام دا ډول تفسيروي چې د ((بې زره)) لفظ ورسره ايهامي کيف پيداکوي ليکي : (( دی چې ښار ته ننوت په يوې ډېرې ښکلې پېغلې يې سترګې ونښتې او په يوځل ليدو يې زړه بايلود. څوک چې بې زړه شي هغه بيا جنګ او جګړه نه شي کولای.)) (۸ : ۳۱۲مخ)

په پورته جملو کې وينو چې ((بې زړه)) د عاشق او ډارن دواړه معناوې ورکوي چې نږدې معنايې د ((ډارن)) ده او لرې معنا يې ((عاشق)) ده. د جملې له سـياق څخه معلومېږي چې ډارن سـړی جنګ نه شـي کولای؛ خو دلته له بې زړه څخه د ليکوال موخه زړه بايللی ( عاشـق) هدف دی. په ناڅاپي ډول د دويمې معنا کشف ايهامي کيف رامنځته کړی.

د ((کار فکر)) تر سرليک لاندې يې د کار کولو په ارزښت او ګټو بحث کړی. يو څو جملې يې داسې دي: (( ... هغه چې د خان مزدوري کوي، خان څه نه ورکوي، کار يې ورکوي . نو راشه! د کار سړی شه ! د کار سړی او د سردار سړی ډېر فرق لري. )) ( ۱ : ۴۳۷ مخ)

په پورته جملو کې د ((کار سـړي)) ترکيب نه لومړی لوســتونکی د ((ښــه ســړي)) اخذ کوي، خو وروســته ډېر ژر پوهېږي چې د ليکوال موخه ورڅخه هغه کس دی چې پرکار ه ،کارمند او په خپل زحمت او زيار باورمند وي . نو په دغه شـکي حالت کې د اصـلي معنا موندل هنريت او ښکلا رامنځ ته کوي .

دا ښـکلاييز کمال د معنا له ښلا ښلو اړخونو څخه راپيداکېږي ، کله چې په يوه ټولنه کې د ســانســور فضــا موجوده وي، يا ليکوال په طنزي ژبه د خپلې ټولنې نابرابريو ته د انتقاد په ســترګه ګوري. له يوه اړخه له دې صــنعته اســتفاده موخو ته د رســېدا اغېزمنه لاره له بله اړخه د نثر د هنري کولو اعلی چاره ده . استاد غضنفر ليکي: (( ايهام چې د کلمې يا کلمو د دوه يا څو اړخيزوالي په وجه ښکلا پيداکوي

او خیال ته پېنځي ورکوي، د معنا د وسعت او ژوروالي سبب کرځي . د استاد الفت په نثرونو کې ایهام په کښو موردونو کې د طنز د پیدا کولو او دغه راز د سانسور په شرایطو کې د سیاسي نیوکو ذریعه ده. )) ( ۸ : ۳۱۲ مخ)

په ټوله کې استاد الفت د نثر لیکنې عالي کمال لري. خپل لوړ فکرونه او ژور فکرونه یې په ښکلو ظرفونو کې په ځانګړي ظرافت سره ځای کړي. پر نورو ښکلاییزو کیفیاتو سربېره یې د نثر لیکنې بله ښکلا ایهامي کیف دی، چې دلته یې موږ ځینې بېلګې سره له تحلیله راوړې.

## د نثر موسیقیت

موسیقي زموږ دروني احساسات،عواطف اوقلبي تمایلات اغېزمنوي او د هغه په لېږد کې ځواکمنه برخه لري. له همدې امله د کلام هنري او ښکلاییز توکي ګڼل کېږي. زموږ ډېر لوستونکي د شعر له موسیقیت سره بلد دي خو د ټولو د نثر موزیکالتوب ته پام نه وي. که دقت وشي ډېری نثرونه د موسیقي شرنګا لري. معید رشیدي لیکي:(( د نثري نظمونو په جواز ځکه نه پوهېږو چې زموږ غوږونه له عروضي بحرونو سره اشنا دي. )) (۶: ۶۵ مخ)

موسیقي له موزیکالو غږونو څخه راوتلی غږ دی چې د کلمو ، تورو او ترکیبونو په تکرار، همغږی ، تناسب او انسجام پورې اړه لري. استاد ازمون لیکي: (( د توریو تکرار او یو له بله سره غاړه غړی کول په آهنګین مزي د وینا موسیقي رامنځ ته کوي.)) (۳: ۱۸مخ)

په نثر کې موسیقي د تورو او کلمو له تکرار هـ علاوه تناسب او انسجام هم رامنځ ته کړي. موسیقي د نثر په هنریتوب کې اغېزمنه ونډه لري. له یوه اړخه احساسات او عواطف بیداروي. له بله اړخه زړه او روح ورسره د سکون احساس کوي. دریم داچې کلام ته سلاست او رواني ورکوي. ګوستاوفلوبر لیکي:(( زه د جملې تال او آهنګ ته دومره اهمیت ورکوم چې کله وګورم چې جمله مې په زړه نه کښېناسته نو په لوړ اواز یې لولم او تر هغې پورې یې بدلوم رابدلوم چې ویل یې راته اسانه شي. )) ( ۸ : ۷ مخ)

د پښتو هنري نثر ونو د هنریت یو لامل همدا موسیقیت دی. چې د ځینو ناثرانو نثر ورسره ډېر خوږ شوی لکه د پوهاند رښتین هنري نثر ته چې همدې توکي جالبه ښکلا ورکړې. همدارنګه دګل پاچاالفت نثرونه پر نورو ښکلاییزو توکو سربېره له دې اړخه هم ښکلي دي. د نوموړي په نثر کې د موسیقي بېلا بېل وریانتونه شته چې په متناسبو، مترادفو، تکراري کلمواو تورو کې لیدل کېږي. ښاغلي الفت ممکن دا کار د وضوح او د لوستونکي د ملتفت کولو لپاره کړی وي. لوستونکی دقت، ځیرتیا او باریکتوب ته رابلل اوملتفت کول د نوموړي د نثر لیکنې لوړ کمال دی چې له پورته خوبیو سربېره یې نثر ته خوندوره موسیقي هم ورکړې . د بېلګې په ډول د ((مترقي ژوند)) تر سرلیک لاندې لیکي: ((د پسرلي ګلونه چې له ځمکې راټوکېږي، لوېږي، غوړېږي، مړاوې کېږي او خاورې کېږي په ژوندانه کې برخه لري او ژوند د همدغسې تغیر او تحول نوم دی ...... همدغه له خاورو زرغونېدل ، لوېدل او پخېدل د ژوند انتظار دی او مترقي ژوند همدغه دی .)) ( ۱ : ۱۷۹مخ)

په لوړ پراګراف کې ښکاري چې (راټوکېږي، لوېږي او غوړېږي) الفاظ له معنوي اړخه ډېر نږدې دي او یو ډول مترادفوالی لري. دلته وینو چې لیکوال وضوح او د کلمو ترمنځ ټینګ تناسب په پام کې نیولی چې ددې دوو ښېګڼو په پایله کې خوندوره موسیقي رامنځ ته شوې چې له ظاهري اړخه دکلمو د (یږي) همغږه برخې په تکرار کې لېدل کېږي او له باطني اړخه دغو فعلي کلمو ته ځواکمنه موسیقي ټینګ تناسب ، همغږي او انسجام ورکړی، ډېر لیکوال یې په داخلي موسیقي تعبیروي او زه همدا د نثر موسیقي بولم او بس. که فکر وکړو د طبیعت په زماني انټروال کې د ګلانو راټوکېدل، لوېدل، غوړېدل، مړاوې کېدل او خاورې کېدل څومره متناسب راوړل شوي چې په مفهومي ډول له یوه حالته بل حالت ته تلل د طبیعت په نظم برابره موسیقي رامنځ ته کوي. اوس که ووایو چې پورتنیو جملو زموږ په عاطفې او احساس څه اغېز وکړ ؟ ویلای شو چې

لوړې جملې موږ له نا امېدۍ څخه راایستلی شي. صبر او زغم راکولای شي. په ژوند کې مو تحول او حرکت ته رابللی شي او د الله په خلقت مو مینولای شي. د موسیقي له اړخه یې یو بل کمال دادی چې متضادو الفاظ کې هم د موسیقۍ شور لري لکه د (غوړېږي ) له لفظ سره یې چې د ((مړاوي کېږي او خاورې کېږي)) ترکیبونه کارولي. که مو فکر کړی وي ډېری کلمې له معنوي اړخه په تضاد کې موزیکالې ښکارې او د یوه اهتزازي حرکت په څېر یې تر شا یو شور پروت وي : (لوړ او ټیټ ، پوه نا پوه ، روغ نا روغ .... او داسې نور .) د الفت په نثر کې دا کمال ډېر محسوسېږي او یو قسم خوند لري. ځکه ذهن ډېری مفاهیم په خپلمنځي تضاد پېژني.

دموسیقي بل کمال دادی، چې عاطفي ځواک راوېښوي. تاسې د الفت ((بې ګناه بندي)) تر سرلیک لاندې لیکنه ولولئ څه احساس کوئ؟ زه خو داسې احساسوم چې موږ د یوه داسې څېز په مقابل کې بغاوت کوو، چې نه لاس لري نه پښې ، نه توره لري نه ټانګ ؛ خو با وجود ددې زموږ ژوند ته رونق ورکولای شي چې هغه فکر دی. استاد الفت هم فکر له یو سف [ع] سره تشبیه کړی چې بې له کومې ګناه د زندان تورو خونو ته ننوت. الفت توصیه کوي چې دا بې ګناه بندي ازاد کړئ ، زه چې په همدې تونه کې دغه برخې اورم: ((پرېږدئ پرېږدئ ، دا بې ګناه بندي پرېږدئ)) ( ۱ : ۴ مخ) داسې احساس کوم لکه موږ چې د یوه بې ازاره او معصوم ماشوم په وړاندې بغاوت کوو. نو د (پرېږدئ ) امریه فعل او امریه (ئ ) تکرار ټول نثر ته داسې موسیقي ورکړې چې له زړونو مو د ترحم او مهربانۍ عاطفي کوکې را ایستلای شي.

زه خو له سره له مترادفو الفاظو سره جوړ نه وم ځکه له معنوي اړخه کټ مټ الفاظ ډېر کم پیداکېږي که پیداشي بیا هم توپیرلري؛ خو هغه د مروجې پېژندنې په اساس مې داستاد الفت په هنري نثر کې ډېر مترادف الفاظ ولیدل.ځینو یې نثر ښکلی کړی و او ځینو نورو یې عیبجن کړی. هغو مترادفاتو یې نثر ته ښکلا ورکړې او د موسیقۍ لامل شوي چې د تاکید، وضوح او ملتفت کولو لپاره کارول شوي. لکه د ((لاروي)) تر سرلیک لاندې چې یې لیکلي: (( پاڅېږئ روان شئ او لرې ځای په نظر کې ونیسئ. لوړه او تنده په توقف او سکون کې ده په حرکت کې نه شته. )) ( ۱ : ۴۸ مخ)

په لوړ نثر کې وینو چې (پاڅېږئ روان شئ ، توقف او سکون) خلک په مترادفه معنا استعمالوي، دلته الفت د تاکید، وضوح او متلفت کېدلو لپاره استعمال کړي ، موسیقي یې رامنځ ته کړې او د نثر د ښکلا باعث شوي. یا لکه د ((بې ګناه بندي)) تر سرلیک لاندې لیکنه چې د ((پرېږدئ)) امریه فعل تکرار د تاکید او ((مه غورځوئ او مه اچوئ)) امریه فعلونو تکرار د وضوح په خاطر شوی. هم یې موسیقي رامنځ ته کړې هم ښکلا :((تاسې دغه ښکلی موجود په تورو ځاګانو کې مه غورځوئ ، په زندانونو کې یې مه اچوئ.)) ( ۱ : ۴ مخ)

ځینې داسې مترادفې کلمې دي چې نه د تاکید لپاره، نه چندان د وضوح لپاره او نه د لوستونکي د پام راړونې لپاره کارول شوي وي. دا ډول مترادف الفاظ استعمالول که څه هم لیکوال ته وضوح ښکاري؛ خو د لیکنې د اوسنیو اصولو له مخې عیب بلل کېږي. د بېلګې په ډول : ((د علم او پوهې خاصه او ځانګړتیا همدغه ده، چې په انسان کې د زړو دودونو او رواجونو پابندي کموي او د نوي عصر ضرورت او احتیاج ته یې متوجه کوي .)) په دې جملو کې ( علم او پوهه ، خاصه او ځانګړتیا ، ضرورت او احتیاج ) مترادف الفاظ دی که پورته جملې داسې شي لا به سلیسې او ښکلې وي : ((د پوهې خاصه همدغه ده ، چې په انسان کې د زړو دودونو پابندي کموي او د نوي عصر اړتیا ته یې متوجه کوي.))

د تورو تکرار او غاړه غړۍ کېدل هم د موسیقۍ لامل ګرځي. لکه د ((زوړ فکر)) تر سرلیک لاندې بېلګه کې چې د ((ي)) توري تکرار ټول پرګراف موزیکال کړی او زموږ حواس ورسره بیدار شوي: ((سترګې یې مه خلاصوئ ! کوم ښکلی مخ به ویني، لیونی به شي. میخانه به وګوري مست به شي. ځان به ویني، خود بین به شي. د بل عیب به ویني بدبین به شي. پرېږدئ چې سترګې یې پټې وي او څه نه ویني. کوښښ وکړئ چې په ښو او بدو پوه شي او څه زده کړي. )) (۱: ۱۱۶ مخ)

موسیقیت د نورو ښکلاییزو توکو سربېره د نثر ذاتي او طبیعي ښکلا ده چې په وړاندې یې زموږ حواس او عواطف ورسره په حرکت کې وي. د الفت نثر ځای ځای له دې ښکلا څخه هم برخمن دی.

## عاطفي کیف

عاطفه هغه قلبي رجحانات دي چې له درد، زړه سوي،خوښـي، غم، حیرانتیا او ترحم څخه پیداکېږي. ګل پاچاالفت په خپل اثر ادبي بحثونه کې لیکي: ((عاطفه هغه داخلي قوه ده، چې په نفس تاثیر لري او نفسونه متاثره کوي .)) ( ۲ : ۷۶ مخ)

عاطفه له لویه سره د معنویاتو مور ده چې د ژوند په تفسیرولو کې یې اوڅاره دنده اجراکړې او په تخلیقي ادبیاتو کې خو له عاطفي قوې او کشش پرته چاره نه لرو.

عاطفه زېربېدنه یوه مجرده کیمیاوي عملیه نه ده چې د څو مالیکولونو له یوځای کېدو څخه رامنځ ته کېږي بلکې هغه قلبي تمایلات دي چې له احساسه وروسته راپیداکېږي، چې موږ ورته د درد، زړه سوي او ترحم نوم ورکوو.

عاطفه اثر ته ذاتي او طبیعي ښکلا ورکوي. بې له دې چې د مصنوعي زیوراتو پنډ وربه غاړه شي په طبیعي ډول اثر ښکلی کوي. دغه ښکلا د الفت په نثرونو کې له ورایه ښکاري. حتا په ادبیاتو کې د ده د انتقادي ریالېزم مفکوره له همدې چینې څخه سېرابه ده. که ټولنیزانتقاد یې کړی که سیاسي په ټولو کې یې دعاطفي ګراف لوړ دی د((زیارت ډېوې)) تر سرلیک لاندې ادبي ټوټه کې د نادارو دزړه درزا اورېدل شوې، لیکي:((هو، دغریبانو په کورونو کې تیاره وه، څکه چا نه لیدل. په دوی باندې یوازې دخدای نظر و او بس. د دوی ډیوې دې خدای ولګوي موږ به دزیارت ډیوې بلوو)) (۱: ۶۷ مخ)

په دغه ټولنیز انتقاد کې خلک په مزخرفاتو کې ښکېل دي. د نادارو کورونه یې په تیاره کې پرېښي او دوی په قبرونو ډیوې لګوي . دلته هم عاطفي کشش وینو چې دغه جملې ترې رامنځ ته شوي ((د دوی ډېوې دې خدای ولګوي موږ به دزیارت ډیوې بلوو.))

د الفت له نثرونوڅخه ښکاري چې دده زړه له عاطفي شوره ډک دی. په نادار، بې وسه، یتیم او مظلوم کس باندې یې زړه درد کړی حتی تر مرګه پورې یې ددوی د زړه درزا اورېدلې او د هغو په ژوند یې فخر کړی. د خپل وصیت په لومړي او اخري بند کې وایي:

غواړم چې مرګ مې وي په شان د یو فقیر

نه دې پکې ویـر وي نه د خلکو ډېر بهیر

خدای ته ډېر نږدې وي له هر چا څخه الفته

هغه چې دنیا کې وي غریب خوار او حقیر

(۱ :۴۳ ـ ۴۴ مخونه)

د الفت ډېری خبرې د عاطفي صدق پر اساس جوړې دي. څکه یې نثر په لوستونکو ژوره اغېزه کوي او ډېر ژر ورته مقنع ښکاري. دی یواځې د انسانانو په وړاندې له عاطفي چلنده کار نه اخلي، غواړي په طبیعت کې یې د ژوند هره لحظه له عاطفي کوره رامېلمه وي. دلته یې ((زما د لاس نیالګیه!)) تر سرلیک لاندې نثر ځینې جملې وګورئ: ((زه نه یم خبر چې ته چېرته وې او له کومه ځایه راغلې. دومره پوهېږم چې نورو ګنو نیالګیو سره په یوه تنګ ځای کې ولاړ وې، هلته ستا د لویېدو او غتېدو لپاره زمینه مساعده نه وه، ځکه ستا تعلق له هغه

ځایه قطع شو او دلته راغلې. زه غواړم چې ستا تعلق او ارتباط له دغه کاله سره ښه ټینګ شي، ستا ولې او ریښې هرې خواته وغځیږي، ستا څانګې او ښاخونه په دغه هوا او فضا کې ډېره وده وکړي او له تانه غټه ونه جوړه شي، زه به ستا د ترقۍ او لویېدو لپاره زیار کاږم، ته دلته زما له اولادونو سره په دغه کاله کې اوسېږه. دا ځای په تا باندې نه تنګېږي. دا ستا کور دی. ته ددغه کاله له ماشومانو نه یو ماشوم یې. زه هیله لرم چې ستا تر سیوري لاندې خلک کېني . ...)) ( ۱ : ۱۰۹ مخونه)

په پورته جملو کې وینو چې الفت نیالګی ماشوم ګڼلی، په خپل کاله کې یې ساتلی ، ښه یې پاللی او د خلکو لپاره یې د هوسایېنې سیوری پرې جوړ کړی. نیالګي ته یې شخصیت ورکړی او د تشخیصي صنعت په مټ یې له نیالګي سره خپل عاطفي راز او نیاز کړی ، چې له دې نیالګي څخه ممکن هغه ماشوم هدف وي چې پالنه یې کېږي، د علم په ګاڼه سمبالېږي او ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کېږي.

د ((مزار لوحه)) تر عنوان لاندې نثر کې لیکي:((کور په کور او کلي په کلي به ګرځېدمه اود خدای په نامه به مې څه غوښتل. چا به یو موټی ناپاکه غله راکړه او چا به سوې ډوډۍ راکوله ډېرو کورونو به ځواب راکاوه او ځینو به په دروازه کې هم نه پرېښودم. څو ورځې د یوه او بل له درګاه نه وړی او بېنوا راغلم. هېچا هېڅ رانکړه، له ټولو خلکو نه مې زړه بد شو، دنیا ته مې په کرکه وکتل، خدای ته مې رجوع وکړه او په دغې کوټۍ((قبر)) کې پرېوتم. هغه چې زه به یې په دروازه کې چانه پرېښودم اوس ماته لاس په نامه ولاړ وي، له مانه څه غواړي.

زما په نامه زما کوټۍ ته هر څه راوړي او د خدای په نامه خوارانو او غریبانو ته سوې مړۍ هم نه ورکوي.)) (۱:۱۰۸مخونه)

په لوړ نثر کې وینو چې لیکوال ټولنیزو خرافاتو او دودونو ته له عاطفي لیده انعکاس ورکړی . د یوه غریب او فقیر د زړه آهونه یې تر لوستونکو پورې رسولي. همدا عاطفي کیف دی چې د نوموړي نثر ورسره ښکلی شوی. استاد الفت له ژورو عاطفي تمایلاتو باخبره لیکوال دی. د ((ضعیف او قوي)) تر سرلیک لاندې نثر کې د عاطفې په ارزښت خبرې لري. عاطفه له ماشوم سره تشبیه کوي او بیا عاطفي چلند ورسره کوي. یعنې له عاطفې سره عاطفي چلند کوي، لیکي:((د دنیا دود او دستور خو دادی چې زورور به کمزوری وهي او ضعیف به د قوي له لاسه په عذاب وي مګر په کورونو کې د مینې او محبت تقاضا بل راز ده، هلته یو کوچنی ماشوم خپل مشر ورور په څپېړه وهي او هغه ورته خاندي یعنې له ټولو نه کمزوری په ټولو زورور دی. ماته دغه کورنی دود او دستور ډېر ښه ښکاري او له خدایه غواړم چې دا رواج عام شي ... ددغه ظالمانه قانون د ماتولو لپاره چې پاک خدای څه شی پیدا کړ هغه مینه او عاطفه ده ... که د مینې او عاطفې ماشوم د هر څنګه لوی سړي ګرېوان ته لاس واچوي بیا یې دا قوت په ټولو زورور دی. زه مینه او عاطفه د زور او قوت په مقابل کې ځکه ماشومان بولم چې زور او قوت ډېر پخوا پیداشوي دي او انساني عاطفه انساني رحم او شفقت وروسته پیداشو،یعنې هماغه شان چې فرعون له موسی د مخه دنیا ته راغی حیواني غرایز هم له انساني عواطفو نه ډېر پخواني دي او د عمر په لحاظ عواطفو ته کوچنیان ویلی شو، مګر دې کوچنیانو ته پاک خدای هغه قوت ورکړی دی چې فرعونان ترېنه په خوب کې هم وېرېږي.)) (۱: ۷۱ ـ ۷۲ مخونه)

د استاد خبرې په ځای دي. که دقیق شو دروني حسونه د انسانانو په کړنوکې نظر باطني حسونو ته ډېر بارز نقش لري. زه د مسایلو او کړنو اصلي ریښه په همدې حسونو کې وینم. عاطفه هم له همدې ډلې ده چې له ډېرو سخت زړونه نرمولای شي . لوړ ټیټولای شي او ټیټ لوړ ولای شي . کوم کار چې په عاطفي وړتیا کیږي. هغه نه ټانګ کولای شي نه تیاره. لکه څنګه چې د انسانانو په زړونو عاطفي ځواک راج چلوي. همدارنګه کلام ته په ښکلا او هنریت ورکولو سره ښکلاییزه جایزه هم وړلای شي او په ذاتي ډول یو اثر مجللوي. د استاد الفت نثرونه له خورا عاطفي دردونو ډک دي.چې دده نثر ورسره خوږ، زړه وړونکی او ښکلی شوی چې ځینې نمونې یې وړاندې شوې.

## پراډوکسي کيف

پراډوکس انګریزي کلمه ده که متناقضه وینا ظاهراً غلطه مګر کېدای شي سمه شي یاد صنعت جوړوي، په ظاهري شکل طباق ته ورته صنعت دی؛خو په باطن کې دطباق مخالفه کړنه تر سره کوي، داکتر درمل لیکي: ((کله چې اضداد یودبل صفت وګرځي یا خپل ضد تشریح کړي پراډاکس رامنځ ته کېږي)). (۵ : ۱۴۵ مخ)

پراډوکسي کیف داسې دی لکه یوڅوک چې په ډېره خندا کې له سترګو اوښکې تویې کړي چې دا حالت مو ړېه خپلو سترګو لیدلی. دلته همدا ژړا چې دخندا ضد کلمه ده، خندا ته نور هم تقویت ورکوي دهغې شدت راته تفسیروي یا لکه رڼا چې موږ ته دتیارې شدت او ډېروالی راښيي.

په اضدادو کې ځان هدف ته رسول، یو ضد د بل صفت ګرځول، مقصدي مفهوم او معنا ته لا رونق ورکول د پراډوکس کمال دی. د استاد الفت په نثر کې هم ځای ځای پراډوکسي څرکونه وینو، ځکه نوموړي ډېری وخت د اضدادو په معکوسه معنا کې خپل هدف ته ځان رسولی. ضد شیان یې په یوه خوله کړي، یو د بل په تفسیر کې یې لګیا کړي چې له امله پراډوکسي کیف رامنځ ته شوی. د بېلګې په ډول د ((جګ برجونه)) تر سرلیک لاندې نثر ته که پام وکړو: ((د کلا برجونه او دېوالونه ډېر جګ وو، د کلا شاوخوا خندق ډېر ژور و . )) ( ۱ :۹۲ مخ)

تر دې ځایه په پورته جملو کې د جګ او ژور ترمنځ تقابل وینو، له دې وروسته راتلونکو جملو کې تضاد خپل ځای پراډوکس ته پرېږدي لکه: ((له دغه جګوالي سره دغه ټیټوالی تړلی و او د لوړتیا راز په همدغه کنده کې پروت و. تر څو چې یوځای ډېر ژور نه شي د چا برجونه نه جګېږي . د یوه لوړېدل او دبل ټیټېدل یو تر بله تړلي دي... که موږ حقیقت ته ښه ځیر شو عزت ډېر ځله په ذلت ګټل کېدای شي او باداري د غلامی نتیجه ده. )) ( ۱ :۹۲ مخ)

پورته جملو ته که ژور فکر وکړو د پراډوکسي کیف تومنه په کې لېدل کېږي . دلته ژور والی د جګوالي صفت ګرځېدلی، د استاد الفت خبرې کټ مټ داسې معنا لري لکه دا جمله ((په ژوروالي کې لوړوالی وینو.)) موخه یې داده چې ورو او کوچنیوخلکو ته په درنه سترګه وګورو.

د ((دیموکراسی)) تر عنوان لاندې لیکي: ((څه شی چې ته وړوکی ګڼې، هغه هم لوی دی ، یا هغه چې تاته لوی ښکاري هغه هم وړوکی دی، ته ونه لویه ګڼې هغه په یوه زړي کې ده .)) ( ۱ : ۴۴۰مخ )

استاد الفت په دې اند دی چې واړه ته هم باید په درنه سترګه وکتل شي ، ځکه لویوالی په کوچنیوالي کې پټ دی. هر څه ته په ارزښت قایلېدل دیموکراسي ده. نوموړي د عدل او انصاف تیوري په پراډوکسي کیف کې وړاندې کړې چې نثر یې ورسره خوندور شوی. لویوالی یې په کوچنیوالي کې لېدلی. دلته که څه هم ظاهراً د لوی او کوچني کلمې متضادې دي؛خو دلته د تضاد دنده نه اجرا کوي بلکې یو د بل صفت ګرځېدلي. لویوالي ته ځکه لویوالی وایو چې په وړاندې یې کوچنیوالی موجود دی، که کوچنیتوب نه وای، لوی به مو په کوم اساس لوی ګڼلو څانه همدا کوچنیتوب دی چې په موږ باندې یې د لویوالي مفهوم منلی. د الفت خبره کټ مټ داسې معنا ورکوي چې په کوچنیوالي کې لویوالی پټ دی. دا ډول خبرې ښکلا زېږوونکې وي.

د ((دړې کاله)) تر سرلیک لاندې لیکلې جملې ځای ځای دا کیف لري:((... زه دغه وخت په دې پوه شوم چې موږ ټول نه شو خوشحالېدلی او په داسې حال کې واقع یو چې که یو خوشحالېږي هغه بل به خپه کېږي یعنې د ځینو خوشحالي د ځینو نورو د خپګان

نوم دی  له همدې لامله وايي، چې يو مړ نه شي بل نه مړېږي. ... که يو سړی خپل سل ګون لوټ په شلو پنځه ګونو بدل کړي په دغه تجارت کې خوشحالي او خپګان نه شته، ځکه چې سود او زيان پکې نه شته که يو په حساب کې وغولېږي دی به خپه شي او هغه بل ته به خوشحالي پيداشي اوس پوه شوئ، چې موږ په څه خوشحالېږو او په څه خپه کېږو؟ که ښه فکر وکړو آيا د يوه ګټه د بل د تاوان نوم نه دی؟)) (۱ : ۶۹ مخ)

په لوړ متن کې دا برخې (د ځينو خوشحالي د ځينو نورو د خپګان نوم دی)، (که ښه فکر وکړو آيا د يوه ګټه د بل د تاوان نوم نه دی ؟) راته وايي چې خوشحالي په خفګان او ګټه په تاوان کې ده. دلته وينو چې اضداد يو بل نه ردوي ، يو بل تشريح کوي او يو د بل صفت ګرځي. چې کلام ورسره پراډوکسي کيف پيداکړی او د نثر د ښکلا يېزتوب لامل ګرځېدلی.

د استاد الفت په نثر کې د اضدادو دا ډول کارونه ډېره تر سترګو کېږي.  نثر يې ورسره د هنري او ښکلاييز منطق رنګ اخيستی چې دلته مو په پراډوکسي کيف تعبير او يو څو بېلګې مو راوړې.

## تشبيهي کيف

د څېړونو په تشخيص او پېژندنه کې ورته والی اغېزناک او هنري رول لري. تشبيه تر ممکنه حده زموږ د زړه غږ د څېړونو په ورته والي اوربدلای شي. په ادب کې تضاد، تناسب او ورته والی هغه اړيکې دي چې د اثر په هنري کولو کې رغنده رول لري. د ورته والي په اړيکې سره ان تر سمبوله مزل کولای شو. د الفت نثر له تشبيهي اړخه ځانګړې ښکلا او کمال لري هغه دا چې د وجه شبه په جوړولو کې يې له خورا دقت او ځېرتيا څخه کار اخيستی او د مشبه مقام او ارزښت يې ښه پرې راسپړلی.  فکر کوم الفت ډېر د وضوح طرفدار دی چې دا صداقت يې په تشبيهي کيف کې هم ليدل کېږي هغه دا چې د مشبه او مشبه تر منځ د ورته والي اړيکه ببخي واضح کوي. که څه هم د ځينو په اند د لوستونکي د تلوسې ګراف راټيټوي ولې په نثر کې له وجه شبه نه حرکت کول او تر طرفينو رسېدل کمال بلل کېږي. د الفت په نثر کې دوه ډوله تشبيهي اړيکه موجوده ده. يو دا چې په مطلق ډول يو څېز له بل څېز سره ورته ګڼل او د تشبيه وجه يې روښانول. دې ډول ته که عادي تشبيه ووايو ښه به وي. بل ډول هغه تشبيه ده چې په داستاني ډول رامنځ ته شوې وي او د مشبه به توليې ځانګړنې په کې تمثيل شوې وي. د وجه شبه د پېژندلو فرصت په کې ډېر وي ، ځکه د مشبه به بشپړ تمثيل په کې لېدلای شو. بې له تشبيهي اداتو څخه دا پرېکړه کولای شو چې دا شی له څه شي سره ورته ګڼل شوي. د تشبيه دې ډول د الفت نثر ته ډېره ښکلا ورکړې د بېلګې په ډول نوموړي يوسف (ع) يو ځلې له فکر او بل ځلې له کار سره تشبيه کړی. په دواړو حالاتو کې د يوسف(ع) د داستان يو څه برخه ليدلای شو او د يوسف(ع) د کيسې ځينې برخې په کې تمثيل شوي. همدغه د(وجه شبه ) د پېژندلو ښه فرصت مشبه ته په ارزښت ورکولو،جدي ګڼلو او لوستونکي ته په قناعت ورکولو سره ښکلا رامنځ ته کړې. د ((بې ګناه بندي)) تر سرليک لاندې نثر ځينې برخې را نقلوو: ((پرېږدئ ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ !  مه وېرېږئ دده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطره نشته. فساد او شرارت له ده نه ، نه پيداکېږي. دده بندي کول لويه ګناه ده. دا هغه يوسف دی چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کې لوېدلی دی. که دی له زندانه راووځي ستاسې آينده سنجولی شي او ستاسې د بلې ورځې غم خوړلی شي... تاسو دغه ښکلی موجود په تورو څاګانو کې مه غورځوئ. په زندانونوکې يې مه اچوئ په ليوانو او پړانګانو يې مه خورئ. پرېږدئ ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ، دی به ستاسې د ګډو وډو او پرېشانو خوبونو صحيح تعبيرونه وکړي. دی د راتلونکي حال پيشبيني کولای شي ، د جوي او فلکي اوضاعو اقتضاآت ور معلوم دي. پرېږدئ ! دا بې ګناه بندي پرېږدئ. دده په ازادۍ باندې علم او پوهه زياتيږي. وطن رڼا کېږي، ړانده بينا کېږئ. دی له خپلو جفاکارو ورونو سره هم ښه سلوک کولای شي، ما خوب ليدلی چې دا بندي خلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني، ښه فکر وکړئ! دا بندي څوک دی؟ پس له ډېره فکره وايم : فکر دی ، فکر .)) (1: ۱۳۰ـ ۱۳۱مخونه)

پورتنی نثر له سـرلیکه جالب راپیل شـوی ځکه لوسـتونکي ته دا پوښـتنه پیداکېږي چې دا بې ګناه بندي به څوک او څه ډول وي. وروسته لیکوال همدا پوښتنې بېرته په نثر کې ورته ځواب کړي. ددې لپاره چې الفت لوستونکي د فکر په ارزښت او مقام خبر کړي؛ نو د یوسف (ع) سره یې په داسې ډول تشبیه کوي چې د یوسف (ع) د داستان هره برخه د لوستونکو سترګو ته دروي. لکه په زندان کې اچول، په لیوانو خوړل، خوبونه تعبیرول، د جوي او فلکي اوضـاعو معلومول، خوب لیدل، د سـلطنت په کرسـی کښـېناسـتل چې دا ټول حالتونه په یوسـف (ع) راغلي وو. لیکوال مشـبه (فکر) ته په ارزښـت ورکولو سـره دا برخې بیاراوړي. د همدغه خواږه، دردوونکي تمثیل اوګنو وجه شبهو په اساس د لوستونکي مینه له مشبه سره ډېروي او په خپل هدف یې پوهوي چې هغه د فکر ازادي ده.

دلته مو ولیدل چې لیکوال د خپل هدف د روښانه کولو لپاره ښه تشبیهي بستر جوړ کړی چې لوستونکی اغېزمنوي او قناعت ورکوي.

د ((ولاړې اوبه)) تر سـرلیک لاندې متن کې((ولاړې اوبه)) د هغو کسـانو لپاره اسـتعاره شـوي چې خپلواک نه وي، خپلې بې عمله او بې حرکته پوهې دا اسـتقلال ترې اخیسـتی وي. دلته لیکوال په تشـبیهي ډول داکسـان له ولاړو اوبو سـره ورته ګڼلي چې د چا لپاره په ښـه نه ورځي . دلته وینو چې لیکوال ددې ناوړه حالت د تمثیل په خاطر خپله ولاړې اوبه د حال په ژبه غږولي:((دغه لوی ډنډ د صـبر او سـکون په مقام کې څه شـور او فریاد نه کاوه، د حال په دغه ژبه یې خپل عمیق احسـاسـات داسې ښـکاره کول : زه د لویو غرونو په ډېره لویه کنده کې ایسار یم او د ولاړو اوبو په نامه یادېږم، زما لیدو ته خلک راځي او زما مهیبه منظره ویني، هېڅ لامبوزن دا جرئت نه کوي چې زما په سر راودانګي او زما مخ په څپېرو ووهي، په ما باندې د چا بېړۍ نه ګرځي، زما کبان څوک نه شي نیولی، د هېچا جال په ما باندې نه دی لوېدلی، زه د هېچا په واک او اختیار کې نه یم، مګر په عین حال کې بې واکه او بې اختیاره یم ، زما په پښـو کې لکه غرونه لوی لوی زنځیرونه پراته دي او زه یې ځای پر ځای درولی یم. هغه ازادي چې له مستو سیندونو او زورورو سیلابونو سره شته، له ما سره نه شته . زه عمق ( ژوروالی ) لرم ، شور او مستي، موج او حرکت نه لرم . زه ډېر خلک غرقولی شم ، مګر ځان له قیده نه شم خلاصولی...)) (۱ : ۱۶۲مخ)

بل ځای د ((پوهه او هوښـیاري)) تر عنوان لاندې لیکي: ((مشـران له ځایه نه ښـوري او کشـران په مخکې منډې وهي که لږې نه ګورې ها د خپل لاس ساعت ته ګورئ ثانیه ګر چې وړوکی دی خومره ژر ژر ګرځي، دقیقه ګر چې لوی دی ورو روان دی. )) ( ۱ : ۶۰ مخ)

د الفت په اند څومره چې د پوهې او هوښیارۍ کچه لوړېږي هغومره فعالیت کمېږي چې اصلي علت یې د پوهې دی. دلته مشر له دقیقه ګر او کشر له ثانیه ګر سره په تمثیلي ډول ورته ګڼل شوی ، نثر ته یې ښکلا ورکړې.د دوی په حرکت او ځانګړنو کې یې موږ ته د کشر او مشر موقف راښوولی او په اصلي علت یې پوه کړي یو.

د پورتنیو بېلګو غوندې تشـبیهي اړیکه د الفت په نثر کې ډېره لېدل کېږي چې لوسـتونکي له وجه شـبهې څخه پله په پله را روانوي. د مشـبه به ځانګړنې په داسـتاني ډول ورته بیانوي او د مشـبه په ارزښـت یې پوهوي. بل کیف یې دادی چې د تشـبیه په طرفینو کې د وجه شبه محدودیت نه وي پروت . دا ډول تشبیهي مزل دقیقاً ځانګړی ښکلاییز کیف لري چې د الفت نثر ترې مالامال دی.

بله هغه تشبیهي اړیکه ده چې په عادي او معمولي ډول یواځې په یوه مشترکه وجه رامنځته شوي وي. په لوسـتونکي د دومره صحنو او پېښـو ننداره نه کوي. دا ډول اړیکه د لومړنۍ تشـبیهي اړیکې په نسـبت دومره خوند او ښـکلا نه لري. یواځې په لنډه فاصله او مجرد ډول د وجه شـبه فکر راکوي د بېلګې په ډول د ( عقیده ) تر سـرلیک لاندې متن دا جملې: ((بې عقیدې خلک لکه د لارو او کوڅو خځلې داسې وي چې هوایي بادونه یې هرې خواته وړي او لوبې پرې کوي.)) (۱: ۳۲۳ مخ)

له پورته جملوڅخه ښکاري چې عقیده اساس او تهداب وي. که څوک عقیده ونه لري هغه ځځلو ته ورته وي چې باد یې هرې خوا ته وړي چې وجه شبه یې بنسټ او تهداب نه لرل دي. دا په خپل ذات کې یو ښه مثال دی خو دومره ښکلا زېږوونکی نه دی لکه پورتني مثالونه. علت یې دادی چې د وجه شبه محدودیت پرې پروت دی.

یا لکه د ((غلو منطق)) تر عنوان لاندې نثر چې لیکي: (( شپې لکه د خوبانو زلفې چې هر څومره اوږدې وي هغومره ښې وي. په سپینو مخونو باید توري زلفې خورې وي.)) (۱: ۴۵۲ مخ)

په دې نثر کې وینو چې غلو د شپو اوږدوالی ښه ګڼلی. ځکه دوی ته اوږدې شپې راحت وي او د دوی حقیقي څېره په کې پټه وي. لیکوال زلفې د تورواڼي په وجه له شپې سره ورته ګڼلي.

په ټوله کې د استاد الفت نثر د تشبیهي کیف له اړخه ښلا ښېل وریانتونه لري، چې ځینو یې نثر ښه ښکلی کړی او دلته خبرې پرې وشوې.

## پایله

استاد الفت د هنري نثر لیکنې سترګور لیکوال دی. د منځپانګې او شکلي سکښت له اړخه یې دقیقاً اوچت نثرونه لیکلي. د الفاظو دقیق او ښکلاییز سکښت یې معنوي رسالت په هسکه غاړه ادا کړی.دې څېړنې راته په ډاګه کړه چې نوموړي په هنري منطق، ښکلي احساس، لوړ تخیل او عاطفي صدق برابر نثرونه لیکلي او هغه د حمزه شینواري هیله یې ښه ورپوره کړې چې وایي:

کرونده د اور په کار ده ادیبانو

ولې څه اور، اورکي هم کرل غواړي

## مأخذونه


۱. الفت، ګل پاچا. دالفت نثري کلیات، دمحمد اسماعیل یون په سریزه او راټولونه، درېیم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: ۱۳۸۷ل کال.

۲. الفت، ګل پاچا. ادبي بحثونه، پښتوټولنه: کابل، ۱۳۴۲ل کال.

۳. ازمون، لعل پاچا. پښتو نظم پوهنه، د افغانستان علومو اکاډمي او کابل پوهنتون: جلال اباد، ختیځ خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۷ل کال.

۴. جاج پښتونزی، حبیب الله. څلور بحثونه، د مجیب الرحمن امیري په اهتمام، صمیم ادبي ټولنه: ۱۳۸۶ل کال.

۵. درمل ، داکتر احسان الله. شعرستان، بینوا فرهنګي ټولنه: کندهار ، ۱۳۹۶ ل کال.

۶. رشیدي، معید. (استعاره ، تخیل او تخلیق) ، د عبدالجمیل ممتاز ژباړه، کندهار، مازیګر کتاب پلورنځی، ۱۳۹۳ ل کال.

۷. شمیسا، سیورس. بیان ، چاپ چهارم: انتشارات میترا، تهران، ۱۳۹۳ل کال.

۸. غضنفر، اسدالله. د نثر لیکلو هنر، لومړی چاپ، په نیدرلیند کې افغاني کلتوري ټولنه: ننګرهار، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ل کال.

۹. نیوټن، اریک. معنی زیبایی، چاپ هشتم، مترجم: پرویز مرزبان، شرکت و نشر علمی و فرهنګی کتیبه، ۱۳۹۵ل کال.